مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۲۰/۱۰/۰۲

# د صدراعظم سیدنورمحمد شاه کندهاري

## له لقب (فوشنجي) ښخه مراد پښین دئ

### لومړۍ برخه

د امیر شیرعلیخان د صدراعظم ( لوی مختار) سید نور محمد شاه له نامه سره زموږ د تاریخ په مروجو کتابو کي ځای ځای " فوشنجي" لقب هم زیات سوی دئ. د بالاحصار کابل مؤلف ارواښاد احمد علي کهزاد د خپل دغه کتاب په ۵۸۵ ـ ۵۸۶ مخونو کي د مرحوم حافظ نورمحمد کهگدای د" اسناد و یاداشتهای تاریخی" په حواله د هغه جشن جریانات لیکلي دي چي د امیر شیرعلیخان د زوی شهزاده عبدالله جان د ولیعهدی له اسیته د کابل په بالاحصارکي جوړ سوی وو او د هغه په ترڅ کي ئي د افغانستان لومړۍ کابینه هم اعلان سوی وه . په دغه کابینه کي د صدراعظم ( لوی مختار) چوکی سید نورمحمد شاه ته ورکول سوې وه او مرحوم کهزاد ئي له نامه سره " فوشنجي" لقب راوړی دئ. دا لقب په نورو لیکنو کي هم تکرار سوی دئ خو د بالاحصار کابل د کتاب تر لومړي چاپ (۱۳۴۰هـ ش) اته کاله وروسته د اریانا دائرة المعارف په پنځم ټوک ۷۴۲ مخ ( چاپ ۱۳۴۸ش)کي ئي د سیدنورمحمد شاه د ژوند لیک په ترڅ کي ولیکل چي نوموړی" اصلاً از ناحیۀ فوشنج از مضافات هرات بوده است". ددغي تېروتني اغېزه تر ننه لا هم روانه ده او زه غواړم چي په همدې اوسنی لیکنه کي دا خبره وښیم چي د سید نورمحمد شاه په نامه کي له فوشنج ښخه مراد پښین ( پشین ، پشینگ)دئ .

**پښین چیري دئ؟**

پښین د کندهار جنوب ختیځ ته د کوږک غره ها خواته پرته سیمه ده چي تر کویټي (شال) پوري غځېدلي ده. دا سیمه د نونسمي عیسوي پېړۍ تر اوخرو پوري د کندهار مربوطه سیمه وه چي د گندمک د منحوسي معاهدې له مخي د کندهار له تنه بېله سوه. تر دغه تړون دمخه د پښین د املاکو قبالي او نور اسناد ټول د کندهار په محکمه کي ثبتېدل. د هغه وخت د کندهار حدود د اوسني بلوچستان ایالت تر کچلاغ پوري رسېدل او له کچلاغ وروسته د قلات ریاست سیمه شروع کېدله. له کندهار ښخه له سپین بولدک وروسته بیا تر کچلاغ پوري پرتي سیمي دادي:

چمن ـ کوږک ـ عبدالله خان ـ پښین ـ کچلاغ

د پښین په کلمه کي د سر دوه کانسونینټ آوازونه ( پ، ښ) ښنگ پر ښنگ راغلي دي چي دغه حالت ته په عصري ژبپوهنه کي کلسټر وایي او که د کلمي په سر کي راسي، انیشیل کلسټر (initial cluster) ئي بولي. د عربي صرف و نحو په کتابو کي دغه حالت ته " ابتداء بالساکن" وایي او محال ئي گڼلی دئ. ځکه نو کله چي د کلمي په سر کي دوه کانسونینټونه راسي ، د عربي ژبي ویونکي ئي لومړي کانسونینټ ته حرکت ( فتحه، کسره، ضمه) ورکوي. په اردو او فارسي ژبو کي هم په ساکن سره ابتداء محاله بلل کېږي او همدغه سبب دئ چي دوی د ( سکول، ستاپ) کلمات ( اسکول، استاپ ) لیکي. د همدې ژبني قانون له مخي د پښین کلمه د سر دوه توري بې حرکته ( ساکن) کانسونینټونه دي چي د هند د نیمي وچي په اردو ژبو نشراتو کي د "پِشین" په شکل لیکل کېږي او د" پِشینگ" املاء ئي هم په ځینو اسنادو کي سته. یعني د (پ) توري ته زېر (کسره) ورکوي او (ښ) ئي په (ش) اړوي. د پِشنگ معرب شکل باید( بشنج) وي خو عام شکل ئي د( فوشنج) په شکل راغلی ده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

**فوشنج چيري دئ؟**

د زياترو محققينو په نظر فوشنج د هرات د زنده جان سيمه ده. زنده جان د هرات ولايت لويديځ ته د غوريان خواته واقع دئ او له هرات ښار څخه ئي فاصله نژدې څلوېښت کيلومتره ده. ويل کيږي چي د فوشنج تاداو (تهداب) پوشنګ ته منسوب دئ او عربو دغه پوشنګ د تعريب د اصولو له مخي په ( فوشنج) اړولی دئ. صدرالدين ربيعي چي د کرت پاچهانو د دربار شاعر وو، ويلي دي:

که هوشنګ پوشنګ را ساخته است
چه خرم بـهشتش بر آراسته است

(وګ: د علامه رشاد جغرافيايي ياداښتونه ـ صـ ۳۵۷)

ددې له پاره چي د سيد نورمحمد شاه قندهاري له نامه سره ددغو دوو فوشنجونو خبره سپينه سي، په پښين کي ددغه مرحوم د جايداد هغي قبالي ته مراجعه کوو چي عين اصل او نقل ئي د اريانا مجلې د ۱۳۴۸ش کال د اسد ـ سنبله ګڼي په ۷ مخ کي چاپ سوی دئ . ددې قبالي په يوه برخه کي داسي راغلي دي :
" ذکر حدود همګی و تمامی آب و اراضی در محال فوشنج از قرار تفصيل ذيل :
ذکر حدود آب و اراضی هجده سهم قنات ګلستان، شرقاً می رسد بطبقه بګهی؟، غرباً می رسد به بر هنه و توبه، شمالاً می رسد به زمين قنات روغانی، جنوباً می رسدبه ممر عام کوړک ..."
د قبالي د متن په دغه برخه کي راغلي نومونه:

**ګلستان:** اوس هم د پښين د ناوې مشهوره سيمه ده.

**بَر هنه:** هَنه يو کوچنی رود دئ چي اوبه ئي د نل په توسط د کويټي ښار ته راځي. هَنه سره سيمه ده او د مېلو ځای دئ. زه (هوتک) څو واره ورغلی يم. بر هنه يعنی لوړه هنه (هنه عليا).

**توبه:** د پښين د ناوې په شمال ختيځ کي غرنۍ سيمه ده چي اڅکزي او کاکړ پکښي اوسي. د اڅکزو توبه او د کاکړو توبه سره ښيلي دي. لوی احمدشاه بابا په همدې توبه کي وفات سو( ۱۱۸۶ هـ ق).

**روغانی:** د پښين په شمال لويديځ کي پراخه اورشو ده چي ډېر کاريزونه پکښي دي.

**کوړک:** د خواجه امران غره پښتو نوم دئ چي د چمن او پښين تر منځ پروت دئ. دادوې سيمي د کوړک تونل له لاري سره وصل کيږي.

بګهی کلمه مي ونه پېژندله.

پر قباله د قندهار د قاضي غلام محمد مهر سته او دا ددې ثبوت دئ چي د پښين جايدادونه د کندهار د محکمې له خوا ثبت کېدل او پښين د قاضي غلام محمد د قاضي توب تر وخته ( د کندهاري سردارانو د واکمنی تر مهاله) د کندهار جزء وو. د پښين اوسېدونکي کندهاريان ول.
له دې توضيحاتو څخه به محترمو لوستونکو ته ثابته سوې وي چي د سيد نورمحمد شاه له نامه سره تړلی فوشنج به چيري واقع وو؟
زه به که د خدای رضا وه، د سيد نورمحمد شاه کندهاري د کورنی ، د هغوی د نسبي شجرو او په هغو کي د راغلو مشهورو اشخاصو په باب د ليکنو او څېړنو دې لړی ته دوام ورکړم او ورو ـ ورو به ئي خپرې کاندم.

(نوربيا)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ